# د ولي محمد طوفان په شاعرۍ کښې د پښتني قدرونو څېړنه

# A study of Pashtun values in the poetry of Wali Muhammad Tofan

Fayazurahman*

Noor Ul Basar Aman♦

**ABSTRACT;**

Wale Muhammad Toofan is one of the known poets of 20th Century. His work as a writer is so well in Pashto literature. He belongs to khudaye Khidmatgar movement and his whole life connected with this movement. His work in the area of politics and journalism is also remarkable. Basically unconditional love for his country can be seen in his poetry, but other ideas are also part of his poetry that includes Pakhtunwali. He has mentioned Pashtun values and Pashtun characteristics in his poetry.

شلمې صدۍ د پښتو شعر وادب ډېر لوی لوی شاعران او اديبان زېږولي او په خپله غېږه کښې روزلي دي چي يوه منفرده او لويه نامه په کښې د ولي محمد طوفان هم ده۔ ولي محمد بنيادي طور په پښتو ادب کښې د يو ليکوال ، شاعر او اديب په حېث پېژندګلو لري خو د ادب سره سره ئې سياست او صحافت هم د ژوند بنيادي اړخونه پاتې شوي دي۔ د خپل عصر يو نمائنده شاعر تېر شوے دے۔ د دوي خپل نوم ولي محمد او قلمي نوم طوفان وۀ۔ د عبدالواسع خان په کاله کښې ئې سترګې غړولي وې۔ شجره نسب ئې د سردار محمد خان پورې رسي، څوک چي بنيادي طور د افغانستان غزني اوسېدونکے وۀ ، او د محمود غزنوي سره پېښور ته راغلے وۀ"(1)

پېښور ته د راتګ نه پس ئې دلته مشرق لور ته خپل نوم باندې يو کلے مشهور کړے وۀ چي نوم ئې "سردار ګړۍ" يادېدو۔ ښاغلي "ګوپال داس" په خپل کتاب "تاريخ پشاور" کښې دا کلے شپږ سوه کاله زوړ ښودلے دے۔ د سردار محمد خان نه پس په دغه کلي کښې يو ياد شخصيت د "کالو خان" په نوم وۀ چي

---

* Ph.D Scholar at Pashto Department University of Malakand

♦ Assistant Professor at Pashto Department University of Malakand

د خپل وخت یو با اثر شخصیت وۀ او د دۀ په حقله دا مشهوره ده چې د ښاغلي ولي محمد طوفان نیکۀ وۀ۔ کالو خان دوه ودونه کړي وو او د یوې کور ودانۍ نه ئې بچي وو چې د ولي محمد طوفان پلار "عبدالواسع خان" هم په کښې شامل دے"(2) .

د ولي محمد طوفان د پېدائش د نېټې په حقله تر دې وخته مختلف روایتونه دي۔ او ټول محقیقین په دې ضمن کښې یوه خلۀ نۀ دي۔ د دوي د زېږون په حقله یو کال ۱۹۲۹ء او بل ۱۹۲۶ء یادیږي او د یوې حوالې مطابق ئې د زېږون کال ۱۹۲۱ء دے۔ د ښاغلي همېش خلیل د وینا ترمخه ئې د زېږون سمه نېټه ۱۳مئ ۱۹۱۹ء ده"(3) .

د دوي د پېدائش په لړ کښې د کال ۱۹۱۹ء سره اتفاق په دې خبره کیږي چې دوي د ۱۹۳۵ء او ۱۹۳۷ء په مېنځ کښې په "ازاد" نومې اخبار کښې لیکونه کړي دي۔ دغه شان که مونږه کال ۱۹۲۶ء یا ۱۹۲۹ء د دوي د زېږون کال وګڼو نو د دوي عمر ډېر کم راځي۔ او د بنده ذهن دا خبره نۀ مني چې د یوولسو یا پنځۀ شپږو کالو په عمر کښې دوي په دغه اخبار کښې لیک کړے وي او حقیقت هم دا دے۔ بله مهمه خبره دا چې د خپل زېږون ۱۳مئ ۱۹۱۹ء نېټه دوي همېش خلیل ته په خپله هم وئیلې ده"(4).

ولي محمد طوفان نېغ په نېغه د سرخ پوش او خدائي خدمتګار تحریک غړے پاتې شوے دے۔ دغه شان ئې د ادب او سیاست لمنه هم کلکه نیولې ساتلې ده۔ په اولسي ادبي جرګه کښې ئې ډېر بنیادي کردار لوبولے دے او د خپلې برخې کار ئې کړے دے۔ د اولسي ادبي جرګې سره سره ئې د کال ۱۹۵۲ء نه واخله تر ۱۹۵۶ء پورې د صحافت سره هم کلکې او مضبوطې اړیکې ساتلې دي. "(5) . د سرخ پوش تحریک سره د تعلق په وجه ئې د زندان د تمبو شاته هم وخت تېر کړے دے او د باچاخان سره ئې د "پښتون" رسالې په اشاعت او خپرولو کښې هم ډېر کومک کړے دے"(6).

دغه شان د دوي د ژوند او کار و زیار بریدونه نور هم ډېر پراخه دي۔ ولې د نورو اړخونو نه علاوه دوي د یو ښۀ شاعر په حېث هم پېژندګلو لري۔ د شاعرۍ یو کتاب ئې د "غورځنګ" په نوم په کال ۲۰۱۴ء کښې د اماراتو ادبي ټولنې دوبۍ په مرسته د چاپ په کالو سینګار شوے دے۔ دوي په یو داسې

عصر کښې سترګې غړولې دي چې هر لور ته د پښتنو په زمکه د فېرنګیانو او نورو سامراجي قوتونو راج او ملکیت وۀ ـ او پښتنو وګړو ته د دغه قوتونو نه د خلاصي ترلاسه کولو ډېر ضرورت وۀ ـ د ازادۍ د تر لاسه کولو دپاره په دغه وخت کښې مختلفو شخصیاتو د مختلفو پلېټ فارمونو نه کوششونه کول چې دوي په کښې د باچاخان د ډلې رکن او د باچاخان د فکر پلوي او پېروکار وو ـ او هم دغه د پښتون اصلي او بې رویه بې ریا پلېټ فارم وۀ ـ د دغه وجوهاتو او اسبابو په بناء د دوي په شاعرۍ کښې د وطن سره د مینې اظهار او د وطن د ازادۍ افکار غزونې کوي ـ د کلام بنیادي او لویه موضوع ئې دغه ده ولې د شاعرۍ ښاپېرۍ ئې کله کله د دغه بریدونو او سرحدونو نه بهر شوې هم ده ـ او د نورو موضوعاتو نه علاوه ئې په شاعرۍ کښې د پښتني قدرونو یادونې او تذکرې شوې دي ـ چې د پښتون هوډ او پښتون مزاج ترجماني او عکاسي ده ـ

قدرونه د قدر جمع ده چې معنیٰ ئې صفت یا بنیاد دے"(7). د قامونو او اولسونو د ژوند دوه بنیادي پائې وي چې یو ته قدر او بل ته خوئې وائي ـ د دغه خویونو او قدرونو په نوم د یو قوم یا یو ثقافت پېژندګلو نورې دنیا ته ډېره په اسانه کېږي ـ د پښتنو چې کوم قدرونه او خویونه دي هغۀ د پښتونولۍ په لفظ کښې احاطه دي ـ "پښتونولي" د پښتني قدرونو او خویونو مجموعه ده ـ او په هر ځای کښې پښتون تشخص په ډاګه کوي ـ ورسره پښتون سیاست، ثقافت، صحافت، ادب، مذهب او نور اړخونو نه هم پرده کشي کوي"(8). پښتونولي د هغو ارزښتونو نصاب دے، چې هر ماشوم ئې د ماشومتوب نه زده کوي او د دغه زده کړو اداري د مور غېږ، د کور د نغري غاړه، د کلي حجره، جومات او بیا د ټولنې هر ګوټ او د ژوند هر ډګر وي چرته چې د دغې ټولنې لړ یا ډېر وګړي سره مخامخ کېږي یا سړي یو ځای کېږي هلته د دغو ارزښتونو زده کړه او ښودنه روانه وي"(9).

د ولي محمد طوفان په شاعرۍ کښې د پښتني قدرونو یادؤنې په بېلابېلو مناسبتونو سره په بېلابېلو شعرونوکښې شوې دي ـ څوک چې په پښتنه ټولنه کښې ژوند کوي نو پښتون هله بللے شي چې د پښتونولۍ په ټولو اصولو پوره او کره وي ـ په پښتني قدرونو کښې یو توکے ننګ او غیرت هم دے ـ دا دواړه چې په چا کښې نۀ وي نو هیڅ کله پښتون نۀ شي ګڼلے او نۀ په پښتنه ټولنه

کښې ئې څه قدر او عزت وي۔ د ننګ او غیرت په حقله په پښتنه ټولنه کښې د زنانؤ او نارینؤ فکر یو شان وي۔ څنګه چې پښتانهٔ نارینه بې ننګي او بې غیرتي نهٔ خوښوي دغه شان پښتنې زنانه هم وي۔ خواه که دغه ننګ په وطن وي، په عزت وي، په پښتو وي یا په پښتون رور وي۔ پښتون د ننګ او غیرت په لړ کښې دومره مړنے دے چې خپل سر هم په دغه ضمن کښې په خوښه په داؤ کولو ته تیاري وي۔ د ښاغلي ولي محمد طوفان د یو شعر نه د ننګ او غیرت څرک داسې جوتیږي:

"دا سعادت دے خدای بخښلے هر پښتون زلمي ته
سر ټیټولے نهٔ شي هیچا ته، خپل سر وبائیلي""(10)

خپل یو بل شعر کښې داسې وائي:

"غواړئ که ژوندون د ننګ او پت محکمه توره شئ
اے د پښتنې مړانې توره سمه توره شه"(11)

لکه څنګه چې ما وړاندې اووئېلې شو چې پښتانهٔ په خپل وطن هم په هر حالت کښې ننګ کولو ته تیار دي۔ هم دغه ډول په وطن ننګ په پښتنه خاوره یو ستر فکر دے۔ او د نارینو غوندې زنانؤ هم په اولسي شاعرۍ کښې دغه فکر راوړے دے۔ که د تاریخ پاڼو ته زیر شو نو پښتنو جونو تل د وطن په مبارزه کښې زلمو سره اوږه په اوږه ملاتړ کړے دے۔ او کوشش ئې کړے دے چې که په خپله مېدان ته نهٔ شي تلے نو د زلمو حوصلې ئې تاندې ساتلې دي۔ لکه یوه ټپه ده:

په وطن جنګ دے پاتې نهٔ شې
زغملے نهٔ شم د همزولو پېغورونه

په وطن ننګ د ولي محمد طوفان د نظم د دې بند نه په ډاګه کیږي۔

"هر یو سیند دې کوثر، هر یوغر دې یو طور
هر بوډا دے زمرے هر زلمے دې باتور
ستا په پت او په ننګ هر بچے دې منصور
اے زمونږه ځانګو د ژوندون د بقا"(12)

څومره چي پښتون زوړ تاریخ لري نو دومره عمر ئې د پښتونولۍ او پښتني قدرونو دے ـ داسې نۀ ده چي ګنې دا چرته جدید تصور دے بلکې د ابتداء نه پښتانۀ په دغه قانون سم ژوند کوي ـ څکه خو ولي محمد طوفان په کلکه ګویا کیږي چې:

"د ننګ او پت او د مړانې زوړ داستان ولوله
خوږې سندرې د پیاوړي خوشحال خان ولوله"(**13**)

پښتونولي که هر څو د پښتنو د ژوند د دستورونو د مجموعي نوم دے خو زیات طور دغه پښتونولي د اسلام سره هم تړون او پیوستون لري ـ پښتونولي د "پښتو" په نوم هم پېژندلے شي چي مطلب ئې پښتو ژبه نۀ وي ـ

ولي محمد طوفان دا فکر داسې راوړے دے ـ

"اسلام پښتو ده پښتو اسلام دے
پښتو چي نۀ وي بې ایماني ده"(**14**)

"هسې رنګ زما ایمان دے په پښتو کښې
لکه څنګه چي پښتو مې ده ایمان کښې"(**15**)

"پښتو مدام ده جنګېدلې د اسلام دپاره
شپه درنه شوې ده بې شانه جوړ سحر زېږوي"(**16**)

خو د اسلام په بعضې احکامو او پښتونولۍ کښې تضاد دے لکه په شریک کور کښې اسلامي پرده پښتانۀ نۀ کوي ـ دغه شان د رشتو په حقله او په میراث کښې هم پښتانۀ مذهب پوره ډول نۀ تسلیموي ـ

"خپله پښتونواله به په هیڅ بیعه ونۀ پلورم
خپل نظام مې ښۀ دے بل نظام ته مې ونۀ سپارې
اوږے یم نهر یم خو پښتو مې په نس کانړے دے
ولوږې د دانې په طمع دام ته مې ونۀ سپارې"(**17**)

پښتني قدرونه د هر یو پښتون په رګ ریښه کښې اغږلي توکي دي ـ او هم دا وجه ده چي د دغه قدرونو د شاته کولو په لړ کښې پښتانۀ په څه قسم مفادو نۀ شي غولېدے ـ تر دې پورې چي پښتون د مرګ د ویرې نه هم پت او ننګ شاته

کولو ته تيار نهٔ دے۔

"ننګ او پت مې په چا خرڅ نهٔ کړل پښتون ووم
له مرګي مې وېره نهٔ وه چې ژوندون ووم"(18)

په پښتنو کښې دا يو خوئي ډېر د پخوا نه دے چې په چا کښې غيرت، ننګ او پښتو وي نو دوي ئې تل قدروي او په درانهٔ نظر ورته ګوري۔ او که دغه اوصافو لرونکے څوک د دوي د منځه اوځي نو دوي پسې خفګان او وير کوي۔ او پوره پښتونولي پرې شنډه بولي ۔ لکه څنګه چې ولي محمد طوفان د ثمين خان په مرګه په مرثيه کښې د هغهٔ درانهٔ پښتني خويونه ياد کړي دي۔

"خنجر بې آبه شول بې څوکې سونبه توره شوله
غيرت يتيم شو ننګ يسير شو پښتو بوره شوله
مرګيه ومرې چې دې واخستو دماغ د وطن
د ثمين خان قبر به تل وي په زړهٔ داغ د وطن"(19)

ثمين خان د خدائي خدمتګار تحريک په باني غړو کښې وهٔ۔ ټول ژوند ئې د دغه تحريک او د باچاخان د نظرئې سره تړلے تېر شوے دے۔

په پښتني قدرونو کښې يو بل ياد قدر "تيګه" ده۔ دا يو قانون دے د کوم په ذريعه چې د دوؤ ډلو ، قامونو يا کسانو په مېنځ کښې په څهٔ شرطونو په محسنه طريقه عارضي غونډې صلح کولے شي او کله کله دغه عارضي صلح مستقل شکل هم اختيار کړي۔ چې مشرانو ته په کښې د فريقېنو سره د روغې دپاره خبرو اترو او صلاح ومشورې وخت مېلاؤ شي۔ نوره نړۍ کښې دا قدر د سيس فائر په نوم يادېږي چې مونږه ورته ډز بندي وئيلے شو ۔ د پښتو او پښتونولۍ چې کوم مثبت قدرونه دي په هغو کښې "تيګه" بنيادي حېثيت لري۔

"تيګه اېښودل د پښتني قانون يو محکم دود دی، کله کله د دوؤ خېلونو او قومونو ترمېنځ د جنګ جګړې لانجه پېښه شي او د دواړو خواوي په سخت کړاؤ او تاوان اخته شي نو په دې وخت کښې د قوم سپين ږيري، مشران او ملايان راټولېږي او د جګړه مارو ترمنځ د جنګ د بندېز تيګه ږدي۔ د تيګې د اېښودلو په وخت کښې يوه کلکه ناغه هم لګول کېږي۔ تيګه ماتول په پښتني دود کښې يو بد او ناوړه کار ، بلکې جرم او ګناه ده۔ که چا تيګه ماته کړه، نو هغوي ته بيا

سزا ورکول کیږي او ټاکلي ناغه ترې اخستل کیږي. تیګه ایښودل د دوو جګړه کوونکېو قومونو ترمنځ د متارکي او سولې معنيٰ لري، د تیګې د ایښودلو او سولې د خبرو په وخت کښې ډزې هم بندېږي چې دې ته ډز بندي وائي"(20)

د ولي محمد طوفان په یو شعر کښې د تیګې ذکر څۀ داسې راغلے دے، چې د پښتونولۍ په معنو کښې استعمال ده.

"هسکې تاترې له غمازانو تیګه ماته کړه
پښې که مغلان وړباندې ږدي "لړمه توره" ده"(21)

که مونږه دغه پورته توکو ته زیر شو او یا ځینو نورو ته اوګورو نو په دې خبره باندې رسو چې پښتنو تل د یو والي او اتحاد مظاهره کړې ده. مجموعي طور پښتونولي هم اتحاد او اتفاق په ګوته کوي. ولي محمد طوفان په خپل شعر کښې د اتحاد پېغام داسې وړاندې کړے دے:

"راځئ ملګرو له وطنه انتشار لرې کړو
د اتحاد شمع کړو بله دندوکار لرې کړو"(22)

حجره جمات د پښتني قدرونو نه دوه داسې یاد توکي دي چې هر پښتون ورسره شناسائي او مینه محبت لري. دواړه د یو بل نه جدا ځایونه دي حجره کښې مېلمانۀ ناسته پاسته کوي او جمات د عبادت یعنې د مانځه او ذکر اذکارو ځای دے. په نورو تهذیبونو کښې که دا دواړه ځایونه په هر یو شکل کښې راراوان دي ولې په پښتنه ټولنه کښې دواړه روایتاً یو ځای راروان دي. دغه وجه ده چې د دواړو تذکره هم زیاتره یو ځای کیږي. د پښتنو ځانله حجره هم وي او جمات هم خو دا دواړه د یو بل سره دومره لازم ملزوم پاتې دي چې که په یو ځای ئې څوک یاد کړي څۀ غلط تاثر نۀ ورکوي. پښتنو کله کله حجره جمات کړے او کله کله ئې جمات نه د حجرې کار اخستے دے. اوس هم په زیاتو ځایونو کښې لاس نیوې او نورې ځینې ناستې په جومات کښې کیږي. د حجرې تذکره هم د نورو شاعرانو په شاعرۍ کښې لیدے شي لکه چې سلیم راز وائي:

"کلے که لوی شي خو وړوکے لګي
چې ئې حجره نۀ وي ګودر نۀ لري"(23)

د ولي محمد طوفان د دې شعر نه د حجرې او جمات تذکره په ډاګه ده:

" په حجره کښې په پټي کښې په کوڅه کښې به یو ځای وو هم جمات کښې څنګ له څنګه په حضور کښې به د خدای وو"(24)

د نظم د یو بند نه ئې انفرادي طور د حجرې ذکر هم واضحه د ے چې:

"زۀ هم ستاسو غونډې پلار ووم د زامنو
د کمکو زړونو قرار ووم د زامنو
زما هم یوه حجره وه یو موټړ وۀ
کور دننه بهر وینځه وه نوکر وۀ"(25)

چې د حجرې خبره راشي نو ورسره د رباب منګي تذکره هم لازمي ده۔ د اول نه د حجرې سره دغه څيزونه لازم ملزوم ډول راروان وو۔ ځوانانو به په حجره کښې تر ناوخته پورې ناسته کوله او د رباب منګي مېلسونه به هم وو چې یو ځانله خوند او رنګ ئې لرلو۔ لکه چې یوه ټپه هم ده:

"حجره د قام کلي د سره
د نیمو شپو منګے زما لالے وهینه"(26)

د ښاغلي ولي محمد طوفان د دې شعر نه د رباب منګي ذکر په ډاګه د ے چې:

"مونږه منګے، رباب او چنګ هم لرو
د سندرئیزې تورې شړنګ هم لرو"(27)

پښتون چې په کومه خطه کښې اوسېږي نو د ے به په خپل قام باندې ننګ کوي او د خپل قام سره به د مینې او اخوت اظهار کوي۔ چې د پښتونولۍ حصه ده۔ په نورو قامونو او تهذیبونو کښې دا رنګ داسې نۀ وي۔ د قامولۍ تصور نورو شاعرانو هم په خپله شاعرۍ کښې راوړے د ے۔ لکه چې سلیم راز وائي:

"یو زمونږه قامولي، یو زمونږه کور کلي
یو زمونږه غرۀ ملي، تل دې وي پښتونولي
تل دې وي پښتونولي
تل دې وي پښتونولي، تل دې وي پښتونولي"(28)

د ښاغلي ولي محمد طوفان په شاعرۍ کښې په دغه حواله هم ډېر څه لیدے شي چې د بېلګې په توګه ترې زۀ څۀ شعرونه دلته راوړم۔

"د قامولۍ وحدت به ولې پلورو
خپل نوغي هم لرو خپل رنګ هم لرو"(29)

"زۀ یم سمندر نو د لختیو څه حاجت لرم
خپله قامولي مې شته بل قام ته مې ونۀ سپارې"(30)

د پښتونولۍ په توکو کښې اتفاق، اتحاد او جمیعت هم شامل دے۔ دغه تصور هم ولي محمد طوفان په خپله شاعرۍ کښې څۀ په دې ډول راوړے دے:

"خوارۀ وارۀ* هم پښتانۀ یادیږو
خو جمیعت چې نۀ وي هیڅ به نۀ یو
دا بېلې بېلې لارې یو کړئ همه
پښتون ملت چې نۀ وي هیڅ به نۀ یو
سره تړون د خدای رحمت وګڼئ
د خدای رحمت چې نۀ وي هیڅ به نۀ یو
د بل په متهو ده ویاړنه عبث
خپل جبلت چې نۀ وي هیڅ به نۀ یو"(31)

چې څوک د کوم تهذیب او کومې ټولنې سره تعلق او تړون لري نو پرچار ئې ارو مرو کوي۔ ولي محمد طوفان چونکې یو پښتون شاعر وۀ۔ په پښتنه خاوره ئې قدمونه اخستي وو، په پښتنه خاوره رالوی شوے وۀ او بیا پښتونولي ئې په رګ رګ کښې دېره شوې وه، نو لازمي خبره ده چې په خپله شاعرۍ کښې به ئې د پښتنې قدرونو ذکر کولو۔ د پښتنې قدرونو ذکر د دوي په شاعرۍ کښې په ځینو ځایونو کښې په شعوري توګه او په ځینې ځایونو کښې غېر شعوري توګه سره راغلے دے۔ څنګه چې د دوي د شاعرۍ یو انفرادي انداز دے هم دغه شان ئې دغه قدرونه په انفرادیت سره د کلام برخه کړې دي۔

*د کتاب په متن کښې "خپوازۀ وارۀ" داسې لیکلې شوې دي چې د کمپوزنګ غلطي ښکاري

# حوالې

(1) حنیف خلیل،ڈاکٹر،ولی محمد طوفان شخصیت اور فن،اکادمی ادبیات پاکستان،2017ء،ص ۱۳
(2) عابد ، زين العابدين، ولي محمد طوفان شخصيت، مشموله ماهنامه پشتو، جلد ۱۰، شماره ۱۰، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، نومبر ۱۹۷۸ء، مخ ۱۶۸
(3) خليل، همېش، پښتانۀ ليکوال، دارالتصنيف پېښور، ۱۹۶۱ء، مخ ۲۵۷
(4) حنیف خلیل،ڈاکٹر،ولی محمد طوفان شخصیت اور فن،اکادمی ادبیات پاکستان،2017ء،ص۱۶
(5) هم دغه اثر، مخ ۳۴
(6) صابر، محمد شفيع، شخصيات سرحد، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، کال نۀ لري، مخ ۶۶۷
(7) خيال بخاري، ډاکټر، پښتو اکېډيمۍ لغت، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، ۲۰۱۹ء، مخ ۶۰
(8) روشان یوسفزے، پختون کلچر کے خدوخال، باچاخان ٹرسٹ ریسرچ سنٹر پشاور، مارچ 2017ء،ص۱۸
(9) درويش درانے، د پښتنې ژوند کړه وړه ، صحاف نشراتي موسه کوټه ، ۲۰۱۴ ء مخ ۳۴
(10) طوفان، ولي محمد، غورځنګ، عامر پرنټ اينډ پبلشرز پېښور، ۲۰۱۴ء، مخ ۱۴
(11) هم دغه اثر، مخ ۲۳
(12) هم دغه اثر، مخ ۲۸
(13) هم دغه اثر، مخ ۴۳
(14) طوفان، ولي محمد، غورځنګ، مخ ۵۷
(15) هم دغه اثر، مخ ۶۱
(16) هم دغه اثر، مخ ۳۸
(17) هم دغه اثر، مخ ۱۹۷
(18) هم دغه اثر، مخ۶۳

(19) هم دغه اثر، مخ ۶۰

(20) رښتين، صديق لله، پښتنې لاربنود، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، چاپ کال نه لري، مخ ۲۶

(21) طوفان، ولي محمد، غورځنګ، ۲۰۱۴ء، مخ ۲۳

(22) هم دغه اثر، مخ ۳۱

(23) سليم راز، د راز غزل، سنګر پبلکېشنز مردان، اګست ۲۰۲۳ء، مخ ۷۹

(24) طوفان، ولي محمد، غورځنګ، مخ ۴۷

(25) هم دغه اثر، مخ ۶۳

(26) پروېش شاهين، محمد، د پښتنو ژوند ژواک، شعيب سنز مينګوره سوات، جون ۱۹۸۹ء، مخ ۶۰

(27) طوفان، ولي محمد، غورځنګ، مخ ۳۲

(28) سليم راز، تول جهان سره نژدې ووم، سنګر پبلي کېشنز مردان، ۲۰۲۲ء، مخ ۷۶

(29) طوفان، ولي محمد، غورځنګ، مخ ۳۲

(30) هم دغه اثر، مخ ۱۹۷

(31) هم دغه اثر، مخ ۱۹۸